


Ketabton.com

This book was gifted in honour
Jahanzeb on the auspicious c
Festival as special contributio
12 December 1954. **Pukhto.N**
this book to its readers f

(c) ketabton.com: The Digital Library

L.No.15

15/4

# جهان زیبی

## مشاعره

۱۹۵۴ء

۱۲ / دسمبر

با ـــــــــــــــــــــــــــ تمام

## سیف الملوک صدیقی سوات

فیضان سوات بقلم خود

تعداد ۵۰۰ عبدالحمد محمد سعید منگوره سوات

G.H.S. S. Kabal

(c) ketabton.com: The Digital Library

No: 15
16.6.57

٧٨٦

# جهان زیبی

# مُشاعِره

زیر سرپرستی سیُف الملوک صاحب

صدیقی ریاست سوات

لیکونکے او مرتب کونکے فیضانِ سوات

Govt. Higher Secondary School
Acc No 15
Date
KABAL Swat

(c) ketabton.com: The Digital Library



غازی ملت حکمران سوات



# تمهیدِ کتاب

چونکه سنکال دَ حضورِ اعلیحضرت همایونی
جناب محمد عبد الحق جهان زیب خان
صاحب حکمرانِ ریاست سوات دام اقباله دَ
جشنِ سالګیرۍ سنه ۱۹۵۷ء دَ ۱۲ د سمبر
پخقله جوړ دَ خوګ وطن ښاغلی محترم جناب
سیف الملوک صاحب صدیقی یو ځلور طرحې دَ خپل فکر
دَ نتائجو نه منتخب کړې په هغوی باندِ ادیبانو
او شاعرانو صاحبانو خپل خپل جذبات ښکاره کړه
لهذا داموږ دَ یو مجموعې په طور بهٔ خدمت دَ حلقهٔ احباب
او دَ ناظرینو دَ جشن کښې پیش کوؤ:-

(ګر قبول افتد زهی عز و شرف)

فیضان عفی عنه
(سید و شریف)

# دَ نظمونو فهرست


| نمبر شمار | نوم دَ شاعر او دَ هغه نظم | صفحه | نمبر شمار | نوم دَ شاعر او دَ هغه نظم | صفحه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | تمهید کتاب | ۲ | ۱۱ | سلطان محمد صاحب | ۶۶ |
| ۲ | سیف الملوک صاحب صدیقی | ۴ | ۱۲ | شیر صاحب | ۷۸ |
| ۳ | فضل الرحمان فیضان | ۱۳ | ۱۳ | مهر النساء صاحبه بانو | ۸۰ |
| ۴ | حبیب الرحمان حبیب صاحب | ۲۳ | ۱۴ | پیر محمد خان صاحب | ۸۳ |
| ۵ | امیر حمید صاحب | ۳۳ | ۱۵ | محمد نوشیروان صاحب | ۸۹ |
| ۶ | ایاز صاحب. کراچي | ۴۴ | ۱۶ | شیر افضل صاحب | ۹۶ |
| ۷ | عبد المالک صاحب فکري | ۴۷ | ۱۷ | خاني قصاب صاحب. | ۱۰۰ |
| ۸ | شیر محمد خان صاحب مینوشی | ۵۵ | ۱۸ | دلاور خان صاحب | ۱۰۶ |
| ۹ | احمد جان صاحب نشتر | ۵۸ | ۱۹ | دَ ناظر سنوي په خدمت کښ. | ۱۱۸ |
| ۱۰ | مولوي ضیاء الحق صاحب | ۶۳ | ۲۰ | دَ عقیدت ګلونه | ۱۲۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جناب سیف الملوک صاحب صدیقی ادیب سوات

## طرح

یو زه یوائے نه یم چه په دے یم خوشحاله

---

را زه تماشه اوګوره هر طرف ته ځما لاله
یو زه یوازے نه یم چه په دے یم خوشحاله

را زه تماشه اوګوره د اقبال ختلے نمر دے
مولٰی په لوئ احسان راکړے دا دریم اختر دے
خوشحاله قام په دے چه جهانزیب د دوئ رهبر دے
بل ګوره ځما دوره چه نن باره ۱۲ د سمبر دے
هم رو به ترقی دی دوی دا جشن کال ترکاله
یو زه یوازے نه یم چه په دے یم خوشحاله

PUKHTO.NET



اوس جوړ د ترقۍ ځمونږ د پاره دی اسباب
ختلے په عروج د سوات تاریخ دے په هر باب
مالیار چه د ګلزار لړ کړه زاغ زغن غراب
د سیال سره چه سیال کړو مونږ والی عالیجناب
دا ټول د ده همت دے ځان خبر کړه دا حواله
یو زه نه یم چه په دے یم خوشحاله

صحت در له در کړی پاک الله غنی غفور دے
زاړه ځوانان، واړه هر یو په دے ساعت مسرور دے
فرمان چه څه کوے په صدق مونږه ته منظور دے
د قوم د ترقۍ خدمت دِ نور علٰی نور دے
شهرئ دِ دوړی شو له بهتر د زرین شاله
یو زه یوازے نه یم چه په دے یم خوشحاله

وطن دِ باغ ارم کړه څوک ناشکره د احسان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نا شکره به هغه وی چه په مثل د شیطان دے
اصیل به خوشحالیږی په مونږ فضل د سبحان دے
حصه د منافق دلته هم هلته کښی نیران دے
محروم به ژوند کښی نه کړے صدیقی د خپل وصاله
پوزه پوا زے نه یم چه په دے یمه خوشحاله

---

طرح

طوطیان په ګلستان کښی په خندا کیناسته جمع

---

نن باره دسمبر دے پتنګان را غله په شمع
طوطیان په ګلستان کښی په خندا کیناسته جمع

نن باره دسمبر دے خوشحالی ده په هر لور
هر خوا ته نظر اوکړه چراغان دی کور په کور
غنچے شنے د خندا نه پړے بلبلې کوی شور
دعا کوی سلطان ته چه یے ورک کړه ظلم زور



هر یو په خپل پوره دے نه یے شته د بل نه طمع
طوطیان په ګلستان کښی په خندا کیناسته جمع

خندا ده خوشحالی ده په چا نشته درد و غم
دعا کوی الله ته د خپل والئ اعظم
ادیب شاعر چه وړاندې کړه قرطاس ته خپل قلم
اوصاف د جهان زیب لا پوره نه وو زر شه ختم
جمال ستا د کمال چه په نظر شوه د چا لمع
طوطیان په ګلستان کښی په خندا کیناسته جمع

ریښتیا ده چه عادل سلطان د پاک الله رحمت دے
داهم د خدائ د لوری په مونږ فضل عنایت دے
خندیګو، خوشحالیګو په هر ځای ځمونږ وقعت دے
غمخوار د هر یو کار بخپله غازی ملت دے
په تا چه څوک خفه وی ما رب دِ زر تر زر کړی قمع
طوطیان په ګلستان کښی په خندا کیناسته جمع

PUKHTO.NET

چه شکر نه او نه کړی دا بد بخته بس کړ دا ردے
خلاف د اولی الامر په تحقیق کښی ګنهګار دے
تعمیر انصاف د سوات په مثل بل په کوم دیار دے
صحت دولت د علم کړه حاصل که ستا بکار دے
حق وایه صدیقی حق ته دِ تهیک و نسیه سمع
طوطیان په ګلستان کښی په خندا کیناسته جمع

## طرح

### هر سړی موندے لویه برخه ستا د لاسه ده

دا سے تجربه م په تحقیق کښی د احساسه ده
هر سړی موندے لویه برخه ستا د لاسه ده

هر سړے دِ فکر ځان ته نن او د پرون او کړی
فرق په رشتیا دِ د وصال او د بیلتون او کړی
بل د ذره په سترګو دِ کتنه د ګردون او کړی
شکر د الله دِ په دے عهد د مامون او کړی



ستره چه ماضی ځمونږ د حال د انعکاسه ده
هر سړی موندے لویه برخه ستا د لاسه ده

نشته یو مثال چه به وِی دا دور و دوران د چا
نه به یو منصف، عادل، بیدار وِی حکمران د چا
نه به زیب زینت لکه ځمونږ وی په جهان د چا
دا سے رقیبان به په تعجب نه وِی حیران د چا
لویه تجربه دِ د لقمان او د بلیناسه ده
هر سړی موندے لویه برخه ستا د لاسه ده

تا د ملک او قوم چه په کوم شان سره تعمیر کړے
بل دِ د صحت تعلیم عجب غوندِ تدبیر کړے
بنکلے کور په کور چه انتظام دِ د تنویر کړے
هر ځائے کښی انصاف دِ د غریب او د امیر کړے
ځکه خیر الناس و من ینفع الناس سره ده
هر سړی موندے لویه برخه ستا د لاسه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیرې زمانې ته چه نن فکر څوک د سوات کوي
خدائے کو که انسان وي د بے بر فخر ستا په ذات کوي
یا وه قتل خون یا مطالعه د کائنات کوي
ځکه هر یو کس په دې خلوص صدق صفات کوي
هر ځائے اورېدلے صدیقي د حق شناسه ده
هر سړي موندلے لوئے برخه ستا د لاسه ده

## طرح

دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که د یقین شي

محفوظه خزانه وي چه پلاس کښې د امین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که د یقین شي

په صدق چه خدمت کوي مالیار د ګلستان
بلبل ورله راغوړي بل ترے لرې کړي زاغان
زاغ و زغن چه نه وي هر بلبل شي ثناخوان
هم دا د وطن حال وي چه عادل وي حکمران



ګویا په دغه قوم فضل د رب العٰلمین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که د یقین شي

مشهور په تواریخو کښې دے عدلِ جهانګیر
تړلے د انصاف د پاره ده به وه زنځیر
مظلوم به هلته لاړ شه چه به وه د ځان په وير
وئیل به ئې فریادي ته راته او دِ کړه تقریر
سلیم په دغه وصف یادیږے په تحسین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که د یقین شي

یو څو خبرے واوره ته د غازي ملت
رښتینے نګهبان دے د خپل ملک او رعیت
پخپله د سپاهي پښان ولاړ وي په خدمت
فریاد د فریادي اوري هر ځائے په هر ساعت
اوصاف ئې نه ختمیږي که هر وصف په تضمین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که د یقین شي

دَ دہ پہ برکت باندِ وطن ځوونږ سمبال دے
هر یو ته پہ خندا دے هر یو کس ته پہ نیک خیال دے
دَ دہ دے نظم نسق ته هر یو سړے لیوال دے
تعمیرے صدیقی پہ دے زمان کښی بومثال دے
مُمِد او معاوِن دِ دَ دۂ رب پہ هر یو حین شی
دروغ نہ دی رشتیا دی پہ رشتیا کہ دِ یقین شی

---

# سیف الملوک صاحب

## صدیقی۔ سیدو شریف



# فضل الرحمن فیضان شاعرِ خوشنویس

## ریاستِ سوات

---

### طرح

یو زہ یوازے نه یمه پہ دے باندِ خوشحاله

---

رازہ گلہ رازہ چہ دِ خبر کړم مہ دَ حاله
دانہ چہ بیا ځمانہ تہ گلِہ کوے صباله
ن بارہ د سمبر ستر گے وِهی ځوونږ پلور
یونا وے دَ مکیز دا خلہ شوہ ځوونږ پہ کور
گلونه دَ عِشرت دَ زړہ پہ باغ کښی شو سمسور
دَ سوات پہ گلستان کښی بلبلان گډ شو پہ شور
خوشحالہ خوشحالی دہ ن دَ هر سړی دَ خیاله
یو زہ یواځے نہ یمہ پہ دے باندِ خوشحاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جوش د محبت کښې د سيماب غوندې رقاص شوم
د عام نه جدا شومه د خاص سره خاص شوم
ميدان د تصور ته ورد ننه په اخلاص شوم
د فکر په دریاب کښې وړيکے لکه غواص شوم
خارج م کړه لعلونه چه قبول ډک د لعله کماله
د شاه د تاجپوشۍ په تاج جواهر کړه لالا له
ن جشن د حضور دے که د نوي اختر هلال
دا بدر د کمال دے که يو ستورے د اقبال
يا بنکلے پلوشه ده سرو هې پوره په کال
يا دا چه په هجران پسے مدام راځي وصال
ن جونه د جشن تماشے کړي د ديواله
نوي د نکے غزانکے سره بهر کړي د سوشاله
دا زه يوازے نه يم په دے باندې خوشحاله



د خيال په آئينه کښې د رته ښنا يم يو تصوير
په هوش شه هسے نه چه شے د ځا يه هو اګير
د سحر د جادو نه د رته ډک کوم تقرير
اثر به هله اوشي د ضمير نه په ضمير
فيضان خپل تخيل کړو د شاه مينے ته ليواله
الفاظو ئې به زخم د زړه کينسودو د سماله

---

طرح

طوطيان په ګلستان کښې په خندا کيناسته جمع

---

يو وزے زه د سيل د پاره تلے وم صحرا ته
ګلشن د خوشحالۍ کښې ګرزيدم زه هر خوا ته
يو زړے عجيبه بهار په غوګ کښې اوړه ماته
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کيناسته جمع

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سوات په ګلستان کښې نن چغیږي بلبلان
محفل ته د ادب واړه غونډیږي ادیبان
په یادو د سلطان کښې مشغولیږي شاعران
د جشن په جوړ کښې بیا او بیا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

د ۱۲ باره دسمبر تاریخ به یادوي په هر حال
چه دا سالګره یکښې کیږي هر کال
خوشحاله خوشحالي ده نن د هر سړي په خیال
د جشن په شپه کښې تر صبا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

د جشن فریدون او د نوروز نه د جمشید
ځموږه جشن زیات دے دا ځموږه دے یو عید
آزاده آزادي ده یکښې نشته د غم قید

PUKHTO.NET



یو ښکلي محفل کښې شاه ګډ کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

یو سیل دے تماشه ده هر ځای هر مکان
تاریخ تازه کول دي نن د سوات د حکمران
د احکمران راغونډ شولوي واړه زاړه ځوانان
د ډیرې خوشحالۍ نه په رشتیا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

د انجاس نه د ځوانا پورے اوشو داسے یاد
په ۱۲ باره دسمبر کښې حاصلیږي ځموږ مراد
فیضانه حکمران د ځموږ تل وي زنده باد
نن عام وخاص د باره دعا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طرح

### هر سړی موند لے لویه برخه ستا د لاسه ده

ډیر ډیر فوائد د رسولی دی جهان وته
لاس د دلاسه دے پسر هر یو انسان وته
نشته دے سلطانه د عیان نه خو بیان وته
هره نتیجه د حدیث د خیر الناس ده
هر سړی موند لے لویه برخه ستا د لاسه ده

خاص د هر یو رنځ دارو یے د لاسه مسیحائے ته
چوته مره ورنه یے خو هر چا نه بچ لائے ته
هم خو نن د غم د شپے د پاره یو صبائے ته
هره فائده ستا خو نن د پاره بے قیاسه ده
هر سړی موند لے لویه برخه ستا د لاسه ده



ستا په لوی همت سره د سوات وطن آباد شه بنه
علم د ازده کړه ورته جهل نه آزاد شه بنه
هم په جمیل وصف سره هر وطن کښی یاد شه بنه
داد سوات هم ته څکه اوس خلاصه د افلاسه ده
هر سړی موند لے لویه برخه ستا د لاسه ده

تا د قوم د پاره هم پوره کړه ضرورت واړه
تا د ترقی په عروج چوت کړه ریاست واړه
څکه د لګتا نه تول خوشحاله رعیت واړه
ستا مهربانی د نوے بلے نه لګیاسه ده
هر سړی موند لے لویه برخه ستا د لاسه ده

جشن د دے پاره دسمبر د مبارک وی ستا
ډیره خوشحالی د اے سلطانه یو په لک وی ستا
ستوری د اقبال د تل روښانه په فلک وی ستا

PUKHTO.NET

دا دُعاء حمونږ ده ستا په حق کښې بې وسواسه
هر سحر مونږ لے لويه برخه ستا د لاسه ده

تر دِ زنده باد ې حکومت دِ ستا مدام وِي تل
سوړې د رحمت دِ ستا پمونږ علی الدوام وی تل
هم دِ د **فيضان** حقير پتا دعا سلام وی تل

دا سنا دی شروع حمونږ د انيس سو انجاسه ده
هر سحری مونږ لے لويه برخه ستا د لاسه ده

---

## طرح

### دروغ نه دی رښتيا دی په رښتيا که دِ يقين شي

---

تور دي که سره شنه دی هم که زير دي او که سپين شي
دا که په يو رنګ شي نو بيا جوړ به تر آئين شي



راشه دوه رنګي پريږده په يو رنګ سره رنګ شه
ته که دې عاشق نو د آشنا د در ملنګ شه
زر شه د باطل د پاره غشے د خدنګ شه
دوست به دِ خوشحاله شي دشمن به دِ غمګين شي
دا سے کارنامے به دِ بيا لوګړے تر علّيين شي

Govt. High Secondary School
Acc No
Date
KABAL

ځان د اتحاد په رسئ اوتړه محکم بته
زهر د تفريق د مينځ نه واړه ګړه مدغم ته
زړه دِ په چاړه د شاه د مينے ګړه قلم ته
څوک چه دا سے کار کړي په رښتيا سره نازبين شي
دا خو دروغ نه دی په رښتيا که دِ يقين شي
راشه دروازه د يقين او وهه په زوره
ځيل يقين دِ خاص کړه بيا هله لمتوه نوره
ولے ته ديده او دانسته ګوځے شمکوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک چه د اخلاص په جامه پټ شي نو امین شي
تېږ نه وي بیا خلقو ته ډیر څوک لکه ګبین شي

ته په صداقت د جهانزیب د در غلام شه
ښکار لکه مارغه د محبت د ده په دام شه
څو به یې بدنام ته د وفا په نوم نیکنام شه
مخ په صدق ونیسه چه روښانه دِ جبین شي
هله به بیا روښنه درته د یار د مخ آئین شي

خیال کړه مجبور زه په دے معما کښ نو
دا تشے قصے نه دي که وادري هوښیارانو
دا یو معمه د مطلب ده که ده یارانو
وائي **فیضان** تا سو ته که پوهه پرے دوربین شي
کوزه بایه بره، بره کوزه د خودبین شي

فیضان سوات عفی عنه سیدو شریف



## ښاغلے حبیب الرحمن صاحب حبیب ادیب کالوج سوات

### طرح

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

نن باره د دسمبر دے هر سړے ګرځي له خیاله
بو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

نن بیا هغه تاریخ دے هغه میاشت د دسمبر
ختلے چه پرے تخت وه والی صاحب بهادر
هر چا ته هر سړے راځي خوشحاله په نظر
دا زیاته خوشحالي ده پرے رسیږي د بل کاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے جشنِ تاجپوشئ له د والی صاحب والی

یو زه یواځے نه یم چه پرے کومه خوشحالی

د سیال سره چه سیال نه دی هغه کوی سیالی

معموره هم مسروره پرے ورځ وینم بد حاله

یو زه یواځے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

داورځ د خوشحالی ده ټن د هر یو مسلمان

هر ځائے کښ خوشحالی ده په هیچا نشته خفگان

تاریخ د تاجپوشئ چه دے حضور د حکمران

ده چه زبون حال هغه نه دے زبون حاله

یو زه یواځے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

داورځ د خوشحالی د اهلِ سواتو د اقبال

د بارهٔ (۱۲) دسمبر ده مبارک ده د دے کال

ده دا سے خوشحالی لکه د عیده په هلال



دا بارهٔ دسمبر یکښ تاریخ وینم نیکفاله

یو زه یواځے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

آمان د انقلاب نه حضور دِ حکمران وی

دنیا کښ ترڅو پورے چه دا زمکه دا آسمان وی

همدا سے دِ په قام باندِ مشفق حضور سلطان وی

دعا د حبیب دا ده اے خالقه لایزاله

یو زه یواځے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

---

## طرح

## طوطیان په گلستان کښ په خندا کیناسته جمع

---

طوطیان په گلستان کښ په خندا کیناسته جمع

ن بارهٔ دسمبر دے شاه گل کیناسته جمع

دا بارهٔ دسمبر یولوی اختر دے د اولس

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو سړی ته کوم چه کوی خندا هوس
دَ ده یې خوشحالۍ نه په هر ځائ کښې دے مجلس
حسد او کینه لاړه نن اعدا کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

بے حده خوشحالي ده ریاست کښې کور په کور
چه ورځ دَ تاجپوشۍ ده دَ والي صاحب غمخور
په زیاته خوشحالۍ له کته با خیده رنځور
آغوستے خے جامے خلقو زیبا کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

تول خلق راغونډ دَ خوشحالۍ شو په میدان
هر یو کړي خوشحالي په تاجپوشۍ دَ حکمران
په هر کلي دَ سوات کښې په هر ځائ په هر مکان
محفل دَ خوشحالۍ کښې یار آشنا کیناسته جمع



امیر دے که فقیر دے کړے هر یو انتظام
عیشونه دی جلسے دی، دُعا کانے کوی قام
څوک چه بے آرام وه هغه وینم په آرام
په خوان دَ دے سلطان ادنیٰ اعلیٰ کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

ښکاریګی هر طرف ته دروازے ښی مزه دارے
حیران شی په دے ورځ چه مسافر درومي پلارے
نور والي مسافر خنگه اختر شه په تلوارے
حبیب والي کاروان تر په سودا کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

## طرح

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضور د مایستلے بادشاهی ستا سو قیاسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

موندلے لویه برخه هر یو کس لتا سلطانه

احسان مالی جانی کوے د هر مسلمانه

بیا خاصکر په عاجزو ئے بے حده مهربانه

هم دیر د احسانونه هم جزا د سمه لاسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

په مثل د حاتم د حکمرانه سخاوت دے

لایق د دیر تحسین د آفرین د حکومت دے

د عدل د انصاف د په کلی جهان شهرت دے

ستا فیصله هره د میزان او د قسطاس ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

هره فیصله کړے په انصاف عدل پسند یے



پر دے نوم د انصاف په تمامی جهان سره کندے

موصوف په دے اوصافو په چترال په دیر دربندے

تعریف دِ دنیا ټوله کړی د لاندی کم لباسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

حاکم دِ وی حاکم چه ورپکښ عدل انصاف وی

صدق چه له بدو د رشوته ځنے صاف وی

مجرم چه جرم اوکړی په اقرار باندی معاف وی

له دے نه چه خلاف شی بیا توبه دِ دخناسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

خاوند دِ خه نصیب کړه زیات له دے نه بنه اقبال

چه کړی مظلومان دِ په انصاف عدل خوشحال

محصون دِ له گردش د انقلابه او سه آل

دعا د مظلومانو تیره سخته د الماسه ده

PUKHTO.NET

نن بارا د سمبر دی تا جیو شی ده حکمرانه
دا نیک فال تاریخ دے هر یو کس و یم شادانه
دا ورځ له اختره کمه نه ده مهربانه
هره خوشحالی د کال ده هر یو د پاسه ده
هر سړی مونده لوی په برخه ستا د لاسه ده

د احبیب له صدقه خیل مالک ته به د سوال کړی دے
تل د تضاعف د سالګیرۍ دی کال په کال کړی دے
بل د نیکنامۍ غرض دے هر زمان په خیال کړی دے
د الله د نجات هر مسلمان له بے وسواسه ده
هر سړی مونده لوی په برخه ستا د لاسه ده

---

## طرح

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی



سوات ته چه خوک راشی پوره رحمت د رب متین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

لا چه یو ظالم او بل مظلوم شی عدالت ته
دی په خوشحالۍ مظلوم راضی مظلوم غمګین شی

زغلی عدالت ته مظلومان له هر طرف نه
سوال د دوی قبلیږی به یرخه ظالم بیدین شی

په سوات کښ مساوات د معتبر او د غریب دے
حق رسی دے کیږی که خوک خان او یا مسکین شی

زیات له مورو پلاره مهربانه شاه په قام دے
بیا په کومه وجه رعیت به تر غمګین شی

نن په انتظام باند خوشحاله رعیت دے
نه غواړی هیڅکله چه بدل دی دا آئین شی

رحمت په هغه چاوی چه مطیع د حکمران وی
د شاه نه چه خلاف شی هغه دورد شیاطین شی

د غلو شوکمارو نشته مسافره خطر
نه فکر لری غم که په صحرا سره په بالین شی

حبیب والی نصیب دی د والی عمر د نوح شی
د قام ده دا دعا د فرشتو دی آمین شی

---

## حبیب الرحمن حبیب

گالوچ - سوات



## ښاغلے امیر حیدر صاحب بونیری
## ریاست سوات

---

طرح

یو زه یوازے نه یم په دے باندے خوشحاله

---

یو زه یوازے نه یم په دے باندے خوشحاله
دا باره دسمبر دی خدائ محفوظ کړی د زاولله

یو زه یوازے نه یم خوشحاله بتول جهان دے
د سوات په ښکلی زمکه جهان زیب چه حکمران دے

مرغی والئ سندرے چه دا خنک امن آمان دے
مولی دی په ښادئ لوی دا کال تربله کاله

یو زه یوازے نه یم په دے باندے خوشحاله
مولی دی په ښادئ سره لوی د والی ذات

ذات د ده خوشحال وی خوشحال وی سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عدل په انصاف کښې شاه آغستي دي صفات
قدم نقش قدم ئې هر يو ډک دې د کماله
يو زه يوازې نه يمه په دې بانډ خوشحاله

قدم نقش قدم ئې ذو يه ده د اسلام
اسلام هغه اسلام وي چه ئې درست خيرې انجام
انجام د نيک خويونو په والي کښې دي تمام
د مُلک او د ملت خبره نه ده تېرې محاله
يو زه يوازې نه يمه په دې بانډ خوشحاله

د مُلک او د ملت په محبت کښې وي غرقاب
د خوارو غريبانو په خدمت کښې وي غرقاب
قانون ئې شريعت دې شريعت کښې وي غرقاب
آوازې د توحيد دې او ريډيو لے د بلاله
يو زه يوازې نه يمه په دې بانډ خوشحاله



آوازې د توحيد دے او ريډيو لے برابر
خداى رسول ته درست وي هغه او کړي مقرر
يو ورزے د باغچې بلورے تله امير حيدر
بلبل ته گل ويلو چه به ته راځې صباله
يو زه يوازې نه يمه په دې بانډ خوشحاله

---

طرح ۷

طوطيان په گلستان کښې په خندا کيناسته جمع

---

محفل کښې خوا په خوا آشنا آشنا کيناسته جمع
طوطيان په گلستان کښې په خندا کيناسته جمع
طوطيان په گلستان کښې د گلونو ننداره کړي
څوک خاندي خوشحاليکې څوک د خپل جوش نعره کړي
څوک د گلو اخلې پړے مخو کے دو اره سره کړي

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاغان په تیښته لاړه په بیدیا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

طوطیان په ګلستان کښې چه صبا شي خوشحالي کړي
چه باد دَ صبا راشي پاڼے خاندي قوالي کړي
نعرے دَ زنده باد کړي زنده باد چه دَ والي کړي
خوشحاله تمام قوم په مرحبا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

طوطیان په ګلستان کښې مصلحت کوي دَ عیش
هر یو په خیله ځ په اشارت کوي دَ عیش
دنیا کښې په دُنیا خلق صفت کوي دَ عیش
ټول قوم مخامخ دَ رهنما کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

محفل کښې خوا په خوا آشنا کوي خندل
محفل کښې چه خندا کوي هم دا کوي کستل

PUKHTO.NET



...ه دَ والي به مساوي نه وي څوک بل
جلوس کښې دَ بنیادي ټوټے دا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

محفل کښې خوا په خوا آشنا آشنا کوي مذکور
...ږه دَ خوشحالۍ نه معلومیږي مخ ضرور
دا باره دسمبر دَ سالګیرۍ کیږي دستور
میدان کښې مجلسیان په رضا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

محفل کښې خوا په خوا دي دیو بل نه تپوسونه
حق کښې دَ والي غواړي دُعا ټول اولسونه
مخلوق کوي دَ خیل توانه خیرات نه مجلسونه
یاران دَ امیر خیل رالاس په دعا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طرح ۳

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَلاسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَلاسه ده
دا خبره هم هر چا و ښکلے دَ خپل قیاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه په خدمت کښی ده
هر یوه صیغه دَ شرافت په صداقت کښی ده
ماهم اوریدلے دا و یا دَ عوام الناس ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَلاسه ده
ماهم اوریدلی چه دَ قوم خان خادم کیږے
ته خدمت دَ قوم کړے، نو چه خان حاکم کیږے
تلے دا فقره دَ فکر پوره دَ وسواسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَلاسه ده



دا فقره دَ فکر پوره ستا دَ وصف ده
نده باد نعره هم هر یو لوره ستا دَ وصف ده
عدل کړے انصاف کوے دا ستا دَ احساسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَلاسه ده
عدل کړے انصاف کوے نو چه ته ظلمونه شته
نه په ترقۍ شو دا سے نور قومونه شته
ښکل په اخبارا تو کښی لیک دَ حق ستا دَ سه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَلاسه ده
رست په اخبارا تو کښی لیک جهان زیبا شے ته
حکم مهربانه په عاجز و غریبا شے ته
تیزه رسائی دَ عقل ستا چه دَ الماسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَلاسه ده
تیزه رسائی دَ عقل ستا په سیاست کښی ده
قوم دَ اسلام له ښه فائده ستا حکومت کښی ده

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړک دِ چغل خور شي دَ چغل وینا نخاسه ده

هر سړی موندلے لویه بر خم ستا دَ لاسه ده

وړک دِ چغل خور شي دَ چغل وینا اثر نه کړي

بل طرف ته کوچ به هیچرے امیر حیدر نه کړي

دا مِ عریضه په دِ سپر دَ اِلتماسه ده

هر سړی موندلے لویه بر خم ستا دَ لاسه ده

---

## طرح ۴

دروغ نه دِی رشتیا دی به رشتیا کړه دِ یقین شي

---

دروغ نه دی رشتیا دی به رشتیا کړه دِ یقین شِي

لال نشي پټیدلے که به ایرو زیر زمین شي

دروغ نه دی رشتیا دی به رشتیا یقین یکار دے

یقین دَ مسلمان دَ پاره ښه ښکلے کرِ دار دے

PUKHTO.NET



…اثر به ناجا توړه چه بدل کړي گنهگار دے

رشتیا به خنګه پټ شي یو سړے که نکته چین شي

دروغ نه دی رشتیا دی به رشتیا که دِ یقین شي

…رشتیا چه پټوي دا پټول گناه عظیم دے

…سوات والي ته خپل اُستاد دَ خو کړے تعلیم دے

…او نن دے دَ انصاف منصف مزاج عقل سلیم دے

هم داسے نور قوم مو نوله امام دِ جوړ آمین شي

دروغ نه دی رشتیا دی به رشتیا که دِ یقین شي

هم داسے نور قوم مو نوله دِ شي امام ښکاره

…یرت به شجاعت کښي دَ آغستے نام ښکاره

…یا کښي گوته په گوته باند چه شي اسلام ښکاره

بیدار شي هغه قوم چه باشلئ نیک حسین شي

دروغ نه دِی رشتیا دِی به رشتیا کړه دِ یقین شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیدار شی هغه قوم چه نیک خویه یې حکمران وی
خدمت چه د مخلوق کوی په ده رب مهربان وی
هغه زمکه او غرونه کانړی لوټې ګلستان وی
په چا باندې نظر چه د خپل رب العلمین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که د یقین شی

په چا باندې نظر چه وی د رب هغه عادل وی
هغه تر مرتبې د خوا اخلاقو هم حاصل وی
د سوات والی پښتانه خدای خبر چه څوک عاقل وی
په باره د سمبر کښې ځما چهاپ به مضامین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که د یقین شی

په باره د سمبر کښې کور په کور باندې ښادۍ دی
دشمن دې یې ذلیل شی چه په زړه یې ناسوۍ وی
آزاد خو د غزونو دې بل به څه د آزادۍ وی



په غیر د شریعت نه که قائم بل یو آئین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که د یقین شی

---

په غیر د شریعت نه ریاست کښې دستور نشته
قصور دې د نادانو د دا ناوه قصور نشته
بیا کوم د ځانه ماته دې کښې ضرور نشته
شاعر امیر حیدر د مولی نه کړی چه غمګین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که د یقین شی

---

## امیر حیدر بونیری

PUKHTO.NET

# ښاغلي اياز صاحب د کراچۍ نه

طرح ۱۱

يو زړه يوازې نه يمه په دې باندې خوشحاله

---

پرون "د پښتنو" "ن" په خندا را غلو صبا له
زيرې د ښادۍ کوندې هډ هډ راوړو سبا له
غر د سليمان د ننګه غږي ولاړ صدا له
پيغله د ايلم بيا جوړه شوې ده ګډا له
بخت او تخت او تاج د ټولې توب ځنې زاريږي
که ناز د پښتونخوا باندې نازو نړدي نازيږي
تقدير به ګډا سره او تدبير ولاړ به کاله
فطرت په سرو منګلو کښې حنا راوړه حيا له



مخ به نوراني عينک کښې ضيا راوړه ضيا له
نشې له مستيو ډکې د صبا راوړې صهبا له
الله يار او تدبير دوا يمه له مرانې قربانيږي
ښادۍ له خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځائيږي
فردوس د پښتنو د غوږه يې پښتونخوا له
رضوان زيرې ورکوې هسې رنګې د دنيا له
د زړونو د ښادۍ د کوره لرې من هر چا له
حيرت هم اړادو د مشيت ته دې دوچاله
ټولې پښتون آدم ته خلافت سپارلې کيږي
هواد ده د هيواد چې د ښادۍ په تال زنګيږي
خيبر چې چا خبر کړه د دې هسې رنګ احوال له
وې بوئ يم په د بوئ يم "وجود" بيا را غلو خزاله
کمال د پښتنو وو زيږيدلو ونګې له زوا له
کمال هسې کمال چې تکميل مومي له کمال له

(c) ketabton.com: The Digital Library



غازي چه تا ته ګورم ننګيالي م را ياديږي
جهان زيبه! تا ته ګورم ابدالي م را ياديږي
مبارک دې شه دا جشن اې په سيالو کښې بې سياله
يو زه يوازې نه يمه په دې باندې خوشحاله
پښتو په ګډه سره چه يې واک درا غلو تا له
ښادي به و نه کړي چه پخپله شوه واکواله
واړه پښتانه به هر وطن کښې خوشحاليږي
نوبت چه نن د سوات په سر دروکښې ستا غږيږي

---

اياز کراچي



## ښاغلي عبدالمالک صاحب فکري
## تنډوډاګ - سوات

---

طرح مه

يو زه يوازې نه يمه په دې باندې خوشحاله

---

مرحبا فيض مونډلې د بيل بيل ستا د اقباله
مطمئن، خورسنده، ستا په دور باکماله
سوات د کډ بونير دې دواړه خلاص شو د جنجاله
سوال ستا د عروج کوي هر څوک د ذوالجلاله
يو زه يوازې نه يمه په دې باندې خوشحاله
نور د رحمت يې قام له ګورې لارې صافې
د ظلم دې ورک کړه فرشته چه د انصافې

PUKHTO.NET

هر قدم چه اخلے مکمل وِی، نه کړے لا

وړاندِ ے هر سوے استا په اقبال شه دَ خپل سیاله

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

لوړه، که جوړه ده، که خټ دے که کمر دے

کلے دے که ښهر دے که سمه ده که غر دے

هر ځائ غوړیدلے ستا دَعدل ښه خادر دے

نشته منزری هغه بیزو وَتږلیواله

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

ژمے وِی، که اوړے یکښ هرخوک خی مزے کوِی

یرِه تر هم نشته خپلے خپلے مشغلے کوِی

اَمن او آمان دے اے فکرَیَ نه خوک گِلے کوِی

قام دَ سوات دَ علم په دولت شه مالا ماله

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

---



## طرح ۲ر

## طوطیان په گلستان کښی په خند اکینا سته جمع

---

طوطیان په گلستان کښی په خند اکینا سته جمع

ن رت چه دَ خزان وه یکښ اُوکړه قلع قمع

ره ن دَ بهار په ښه موسم شهٔ گلستان

ق دحدِه زیات شو غوټو اُوسپړِ دلوځان

گل شهٔ په خند اچه پسرلی اُوکړو اعلان

بلبل هم نغمه زن شه دَوصال دَگل په طمع

طوطیان په گلستان کښی په خند اکینا سته جمع

افان دَ باغ لاړهٔ، مهربا نه شته خاوند

صیاد ورک شهٔ ظالم نغے غږیږی خوند په خوند

مستی کوِی خوشحالِه دی پرند چرند په ژوند

که لوی دِی که واړه دی هرڅا بیا مونده نفع

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

عجیبه تماشه ده سوات کښې نن صبا اختر ده

دا ورځ د سعادت ده ښکلے دور بختور ده

وطن ټول چراغان دے ځکه باره دسمبر ده

رڼا د قمقمو ده هرځائ بله ده هم شمع

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

راضی دی د غازی نه په ښه شان سره قومونه

په دورِ جهان زیب باندِ او باسی تل شکرونه

فکری یوازے نه هر یو منصف وائی حالونه

فیضیاب ئے په فیض سره هرڅوک دی نشته منع

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---



## طرح ۳

### هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

---

هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

دا صرف زما نهٔ، بلکه دا د عام الناس ده

هیڅ مونده چا نه دے؟ مړو مړ څوک دی؟ وایه

... په ضمیر او مظلومان دی کوم ځائ؟ خدایه

... په کوټ او کوڅه حال احوال، نهٔ چه دوره یه

نو ره د انصاف د تیره زیاته د الماسه ده

هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

ملک د اکبر دے سوات پیتا باندِ روښانه شهٔ

... ښان او چت ئے دومره زر چه د هر چا نه شهٔ

اقبال د چا دے چه محفوظ د هر خزانه شهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دالکمال دَ دے دَ چه منګول پرے ستا الیاس دَه

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه دَه

ن دَ قام دَ پاره دلته هر ځائے اسکولونه دِی

نو دَ ترقئے هم ستا دَ وړاندِ اِسکیمونه دِی

هر خوا ته موجود ستا دَ تعمیر نښه مثالونه دِی

دے داحقیقت، هسے خبره نه دَ قیاسه دَه

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه دَه

لاس په نام ولاړ فکرِی دُعاء ستا دَ اقبال کوی

مراد دِ ستا حاصل شی په دارین کښ دغه سوال کوی

ته چه رهبری کوے تفصیل ئے دَ اجمال کوی

تا ګویا آغستے چرته خو نه دَ اِلیاسه دَه

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه دَه

---



## طرح ۲۱

## دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

---

اے یو باغ دے پکښ تل چه وی بهار

آزاد در پکښ ګرځی بلبلان کوی چغار

وته دَه دَ جنت اَمنُ آمان پکښ بسیار

ان ئے خبردار دَ زمانے دے په اسرار

جنت به وایم سواته که جنت په سر زمین شی

دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

ته دَه دَ جنت زیب و زینت لری بے شانه

رت پکښ جوړ کړی مناظر دی لا بیانه

یږی ګل، غوټئ یا نړے هم ناج کوی دَ ځانه

آواز دَ طائرانو اَورېدے شی دَ هر خوا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



احوال او کوره راشه چه حاصل د ته تسکین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

نظیر دے د جنت ښکلے د سوات زمکه نامدار
طوطیان پکښی چغار کوی بے خوفه له آزار
دا دور بختور دے، دی هرڅوک شکر کنه ار
خزان د مولی دور لری د دے چمن ـ گلزار
په امن د آقا تو دِ د دے ښار یو مکین شی

صد شکر د اکبر دے چه په امن کښی اول یو
د قحط کښ مکشه یچ د هر قسم عوبل یو
اقبال د جهانزیب دے منظم او مدلل یو
د علم به زیور سره فکری! ښه مکمل یو
حافظ دِ د غازی ځوی رب العلمین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

(عبدالمالک فکری، تندوډاګ سوات)



## فخر الشعراء جناب آغلے شیر محمد خان صاحب مینوش ترلاندی (صوابی)

---

طرح نمبر ۲

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

---

هزار ځلے د شمن که یے باکه نکته چین شی
هلال چه د خودی چرے کمال سره قرین شی
جمال د قاهری یے هله ستورے د جبین شی
د وخت په کوټه کښی د سلیمان هغه نګین شی
په تخت د حکومت باندِ فائز به ښه تمکین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



یقین چه دِ محکم شۀ نو قوّت ترِ نه جوړېږي
چه پاک دِ شه قوّت نو حکومت ترینه جوړېږي
چه نیک دِ بصیرت شه، عدالت ترینه جوړېږي
که دروغ دِ وۀ سیرت نو شجاعت ترینه جوړېږي
په ذات دَ جهان زیب کښې به داګل درته آئین شي
دروغ نه دِی رشتیا دی په رشتیا کړه دِ یقین شي

پلاس کښې دِ قلم دَ مقدر وجود کتاب دے
دَ ژوند په سمندر کښې دِ آسمان فقط حُباب دے
په سترګو دَ مؤمن کښې دَ ادراک جهان سراب دے
دَ دۀ او دَ حق مینځ کښې دیر نرے غوندې حجاب دے
اُوچت شي دا حجاب چې چه روح ئې دَ شاهین شي
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا کړه دِ یقین شي

دَ سوات دَ والی کاروارۀ تعبیر دَ ژوندګئ دے

PUKHTO.NET



جهان دَ تصوّر کښې ئې تفسیر دَ ژوندګئ دے
حیات ئې سراپا وینه نو توقیر دَ ژوندګئ دے
په فهم و فراست کښې ئې تدبیر دَ ژوندګئ دے
نظام په محکمئ دَ ښۀ سیرت سره سنګین شي
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا کړه دِ یقین شي

په ...ۀ دَ مینوش کښې که دا طوق ئې دَ خدمت دے
...و دَ والی صاحب نشان دَ محبت دے
... وجه لازم هما ئې تول عُمر صفت دے
...ک چه چا حلال کړۀ نو دا عینِ شرافت دے
کمال دَ حُسن هم دے داکه ګوړے چه نمکین شي
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا کړه دِ یقین شي

---

شیر محمد مینوش تورلاندی، صوابي

## ښاغلے احمد جان صاحب نشتر علیګړه، سوات

---

### طرح ۱

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

---

دلشاد کړی آزاد شه هر نفر چه د جنجاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

خوشحاله ټول وطن د رب په دے کرم عظیم دے
په دَورِ جهانزیب کښی چه مونږ جوت شو لوی دَسیاله

شکر بیا پرے شکر چه ئمه سته له دے ذات شه
معراج دَ ترقئ ځمونږ نصیب دَ ذوالجلاله

پښتو نه راشه ګوره ستا وطن څرنګ جنت دے
واوره در ته وائی د هر ګل زبان دَحاله



وج دَ ترقئ چه د دے ذات په مخ ئے بیامونډ
کړی هر نفر لکه سورما ځمونږ دَ خیاله

عزت دے که عظمت که دِ دولت دے جهانزیب
راحت وَ مسرت ئے وصول تا کړه دَ اقباله

اور دَ خوږ وطن ته که غوږ کیدے څنګه وائی
اکر شه په دولت دَ خپل وطن دَ لایزاله

په در کښی دَ خالق به دَ نشتر وی دُعا دا تل
آشنا کړه مونږ دَ خوږ وطن دَ ننګ دَ لوی کماله

---

### طرح ۲

لوطیان په ګلستان کښی په خندا کیناسته جمع

---

لو ته نیمه شپه کښی جهانزیب بله کړه شمع
لوطیان په ګلستان کښی په خندا کیناسته جمع

اُوچت ئې کړه خوګ راګ پسې شروع شو نو بتونه
مائل شوه دَ هر مُلک دَ هر وطن نه وته سمع

زاغان که خاپېرک ووُ روان کل شوُ نا
دنړا دَ جهان زیب کړه له دې وارو قلع قمع

خوګ وطن ځمونږ به دَ جنت نه یو حساب شي
دَ در دَ لایزال نه دَ نشتر شوه داسې طمع

---

## طرح ۳

هر سړي مونږ لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

فضا دَ کرم ستا چه نن پسې ځمونږ لپاسه ده
هر سړي مونږ لویه برخه ستا دَ لاسه ده

سیرت دَ فرشتو نه فیض دَ نمر نه م آقا ځئې
حسین چهره دې درکړې لایزال عجب دَ ناسه ده



…سوات دَ ګکو کړ خو دَ قسمت چه دِ اصلاح کړې
…سرګنده موږه ته لوته زیبا له بنځ خواسه ده

وطن دَ پښتنو چه په رشتیا سره جنت کړه تا
دَ حال ژبه ګویا دَ هر چمن پرې دَ احسان ده

…شا دَ پښتنو دَ وطن زیبه اجهان زیبه
…ا دَ مرحبا دِ په کودار دَ چیور اسه ده

طوطیان له دې چمن به دِ تل ستائي په نغمو سره
منحوس زبان دَ زاغ ده چه محروم له دې سپاسه ده

…نه پښتون در ته قائل چه په احسان نه شي
…به کامیاب نه شي ثابت ځمونږ دَ قیاسه ده

اے ځمونږ سُلطانه مُبارک بیا مُبارک دِ شه
وینا دَ نشتر داده چه سرګنده له قرطاسه ده

~~~~~~~~
~~~~~~~~

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طرح ۱۲

دروغ نه دي رشتيا دي په رشتيا که دِ يقين شي

پښتون به خوار شي ځکه چه بادشاه ئې دا آمين شي
دروغ نه دي رشتيا دي په رشتيا که دِ يقين شي
نه يم رياکار بچان نه خوښ م رياکار شي
ځاى د رياکار به په آخر کښي تحت ترين شي
کيده لو. قدم ځما د سوات په سرزمين کښ ته
ګوره کائينات چه څوک وطن ځما آئين شي
دے دم قدم د عاليجاه بلند ثمر ځمونږ
زيات به له دے حاله استقبال ځمونږ رنګين شي
آباد لرے خاوند حکمران ځمونږ د سوات
په سوال دِ د نشتر له فرشتو نه هم آمين شي

احمد جان نشتر سکنه عليګرامه، سوات



## شاغلي مولوي ضياء الحق صاحب

عليګرامه، سوات

## طرح ۱۱

يو زه يوازے نه يمه په دے باندِ خوشحاله

مونږ ټول حکمران اوسے اے شاه بلند اقباله
هر څوک دِ هر مند کړه له خپل جوړ او له نواله
ټول ستا دعاګانې کوي که څوک لوي دي که خورسال دي
يو زه يوازے نه يمه په دے باندِ خوشحاله
جوړے چه ځاى ځمونږ د پاره مدرسے کړے
خوله د هر سړي دِ د علمونو هم سے کړے
معمور دِ کړه کل واړه د هنر او د کماله
يو زه يوازے نه يمه په دے باندِ خوشحاله

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



داهغه افغانان دی چه پیښے ئې شه شوت و

له روزه اوله عزیزه ئې بغض و عداوت و

بل کار به له دوی نه وه بے له جنګ او له جداله

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

اوس ناست دی په آرام سره کوی عیش و عشرت

پیدا ئې وله بل سره دے اُنس او محبت

تول ستا شکر ګذار دی خلاص د ظلم د جنجاله

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

جاری په هر مقام باندِ ستا بحر د کرم دے

نن ستا په اهتمام سره تول سوات باغ ارم دے

پاک رب دِ معمر ﺓ په عمرِ نوح کړه نیک خصاله

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

پو تر تل حکمران او سے آشاه بلند اقباله

PUKHTO.NET



په قدرت د رب موجود زمکه آسمان وی

سوات په سرزمین کښې جهانزیب دِ حکمران وی

وا سوال څمونږ قبول کړے په خپل فضل ذوالجلاله

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

پاک رب دِ معمر په عمرِ نوح که نیک خصاله

ضیاء الحق دے ستا غلام حلقه بګوش

کړے له خپل لطف و کرم نه فراموش

د دا اسے خاکسارانو پرورش کوه دعاله

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

هر څوک دِ هر مند کړه له خپل جود او له نواله

---

مولوی ضیاء الحق، علیګرامه - سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بناغلے جناب سلطان محمد رضا منکوی ۔ سوات

### طرح نمبر ۱

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

---

دا لوئی رحمت د رب دے په جهان دیر بے مثاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
دنیا کښې د هر قوم د انتظام نشته امیر
هیڅ امن ممکن نه دے بے امیره په جهان
دا شاذ بلکه عدم دی چه آمین وی د جهان
رحمت خوئے فرشته خوئے والی دے بے مثاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
بے لوثه بے ریا تل د خپل قوم کوی خدمت

PUKHTO.NET



روز غمخوار د قوم د ترقئ ډیر په محنت
دے تو بیته ځکه رب په دغه نیک خصلت
جلال کمال یے ځکه دے د رب نه بے مثاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
څوئ د ستا دے جهان زیب په زړه سلیم
د هر نیک کار دے بلاریب په زړه حلیم
ول د عام الناس دے شرافت لوی عظیم
صد آفرین پتاشه او الحی ستا په افعاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
روښانه شه تاریخ هم د کل ستا ستا په دوران
ستا د انصاف ځکه هر څوک دے د جهان
اصل مجاهد یے د خپل مذهب د کره روښان
قائل لقب د ستا اصدر اعظم یے بے مثاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سوات یو گلستان دے ته هم گل او شمس
دادرس ده مظلوم لره ته سایه ده شجر
ته سوړے د رحمت یې ته رهبر ده بشر
د منېل تو پشت و پناه یې کشتیبان یې بے مثاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

دراصل ته د خدائ یې پرستار دے یې په خلو
ستا نیک عمل ده مومن په زړه جوړ شوے مو
ده مفسد د زړه نه حسد دو رشه ستا په چو
نن سوات دار الامان شه په آرام دے بے مثاله

دعا د رب ته مدام کوم زه میرزا سلطان
آمان دے د زوال کړی رب د عدل دا میزان
قایم دے په جهان وی د اقبال ستوړے روښان
فصیح ملیح بش حمو نږ والی دے بے مثاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله



## طرح ۳

طوطیان په گلستان کښی په خندا کیناستر جمع

---

۱ باره د سهر دے یو نسیم د نو بهار
طوطیان په گلستان کښی په خندا کیناستر جمع

۲ باره د سهر دے پنځم کال حمو نږ د عیش
ان بوره د رحمت دے دا تاریخ حمو نږه بیش
روښند ه کواکب دے د اقبال حمو نږه خویش
دا ستوړے د رحمت دے جهان زیب ده دیار
رڼا پر سوات بونیر دے کل جهان دے په طمع

عادل دے جهان زیب رب په سادل باندِ کړے فخر
لباره د ظلم لاړه نن په سوات شروع دے فخر
شب روز غمخور د قوم دے تل ظالم ته کوی قهر

د امن فرشته ده د رحمت د رب غفار
دا سوات دارالامان دے په رښتیا شوه بے غمه
د قوم د ملک د پاره شب و روز کوی محنت
هم خوب او هم خوراک یې دے د قوم په محبت
عاشق دا جهان زیبا دے معشوق خیل رعیت
دراصل مجاهد دے، رد بدعت، شوه سمه لار
دعاء د عام و خاص رته جاری ده هر دمه
ملیح دے هم فصیح د جهان زیبا د هر بشر
ناصح د هر قبیح دے دل صفا دے په عنصر
روښان یې دے کل جهان د معطر دے منور
اَلنَّقشُ فِی الحجر یې په دنیا جوړه یادګار
مقبول د عام و خاص دے مشهور د تول عجمه
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناست جمعه



سوال ته په درګاه د رب غفار کوه اے سلطان
کل مخلوق د هم رښتیا زیب د جهان
د ترقی عروج د سوات دے د آسمان
د عدالت رب جاری لوے په جار
روښانه یې کل سوات د زړه خالی لری د غمه
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناست جمعه

---

طرح ۳

سرې موندلے لو یې برخه ستا د لاسه ده

---

د صبا یې شوے چه رښتیا د عام خاصه ده
سرې موندلے موندلے لو یې برخه ستا لاسه ده
رحمت یې له تا فیض رسی هر چا ته
رحمت یې چه جاری شولے هر خوا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیب دَ کل جهان شوے دَ زیرو نه بالا وَ ته
ابر دَ بهارِ دے غنچه زمکه ستا دَ لاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

ته باد نسیم دے چه مدام بهار دَ ګلو دے
ځه بنه منقسم دے چه مدام سهار دَ ګلو دے
ځه بنه منتظم دے چه مدام معمار دَ دَ لوے
هر پښتون شرف رتبه مونده ستا دَ لاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

ته خوشبویه ګل دے زیب دَ باغ او دَ جهان دے ته
ته زیب دَ دربل دے سیال دِ نیشته عالیشان دے ته
ته قدرشناس دے قدرمنده قدردان دے ته
تل عفوه سزا په مظلومانو ستا دَ لاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

PUKHTO.NET



تل ته مساوات دَ هر مسلم کړوے دَ ځان سره
نشته عدالت کښې تفاوت زیرو بالا سره
ځکه رب نظر دَ رحمت کوی له تا سره
ته مشعل دَ سوائے رڼائے پر ستا دَ لاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

باره دسمبر دے دا پنځمه سالګره دَ ستا
هر سړے مسرور دے استقلال دَ دخیل ملک دَ جاه
بخت دِ بار آور شه جهان زیبه! شه تا بنده ماه
تل کوی دعا سلطان محمد چه دے دَ لاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

## طرح ۱۲

دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل زیب ستا دَ جهان دے، جهان زیب که دِ یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

اے سواته، ته صدف یې دُرِ شهوار ستا جهان زیب دے
محفوظ دا امانت سا ته دَ رب نه ستا دا زیب دے
تل خیال یې تو کمال سا ته زوال یې ستا هر عیب دے
کمال یې ستا کمال دے دا کلام که دِ یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

اے سواته، ته تاراج وے تل دَ غیرو وے آماج
بے سره سر پرست تباه برباد لکه دُ حاج
صد شکر دے مالِک شوے دَ خپل قوم دَ ملک دَ راج
سامان هم دَ عروج کمال به ستا جوړ بالیقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

ستا وراننه شیرازه وه، مکمله شوه هښیار شه



معمار دَ خپل قوم پیژنه ځان ویخ کړه ښه بیدار شه
تعلیم، صحت، تنظیم شه ستا نصیب شکر گذار شه
دالوی غمخوار همدرد ستا داوالی دے که یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

حفظان بچاوُ دَ خپل عزت دولت که دِ مطلب وی
همدرد شه دَ سردار زیب دَ جهان که دِ مطلب وی
دیوه دَ خپل قسمت ده، ډیر احتیاط که دِ مطلب وی
ځان نوی په سود وزیان کړه په ایمان که دِ یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

گمنام وے ته اے سواته تل دَ غیرو وے غلام
ظلمونه، بدعتونه، وران رسمونه نه تول دَ قام
مالک دَ شریعت دَ سیاست شوے نیکنام
مشکور دے دَ احسان دَ خپل والی شی که یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیا ستا تماشګیره ده ستا د عقل په نظام
تل هوش عقل سلیم ساته د خپل ملک په دوام
هلال انګشت نما شوې د عروج په هر یو بام
تل زیب ستا د جهان دې جهان زیبا که د یقین شې
دروغ نه دی رشتیا دي په رشتیا که د یقین شې

ماهر د سیاست دې جوړ رستم د زمانې
قائد ځوان د سوات دې یو یادګار د زمانې
قاسم فاتح د سوات دې د بدعت د زمانې
ژوندی نوم آبدی شه، زیب د سوات که د یقین شې
دروغ نه دی رشتیا دي په رشتیا که د یقین شې

دراصل خیرالناس دې د اسرار ځوان د قوم
رحمت دې د الله ځوان د پاره د قول قوم
بشر د رب په فضل دے غیبي رحمت د قوم

PUKHTO.NET



ماهر د سیاست عقل سلیم که د یقین شې
دروغ نه دی رشتیا دي په رشتیا که د یقین شې

در شب و روز کوشش جاري دے ستا د ترقۍ
نه څه چه ستا اولاده جوړ بنیاد د کامیابۍ
د تولو نه وروسته وے اوس شوې وړاندې په سیالۍ
اے سوات نر خوش قسمته په خپل دین که د یقین شې
دروغ نه دی رشتیا دي په رشتیا که د یقین شې

مرزا سلطان به تل د رب په درګوې دا سوال
عزت ژوندون مدام ورکړې د خضر په مثال
دائم دې د قسمت د سوات ساتي تل د زوال
تل زیب دې د جهان په جهان زیب که د یقین شې
دروغ نه دی رشتیا دي په رشتیا که د یقین شې

---

سلطان محمد، منګوره، سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښاغلے شیر صاحب چند خوږه سواتے

## طرح ۴

### دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دیقین شي

تیاره کښې رڼا هله وی ښکاره چې عارفین شي
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دیقین شي

تیاره توره تیاره وه چرته نه وه حکومت
نه علم نه ادب وه نه چا پیژندو شرافت
هر څوک وو بے خبره د هنر او د حکمت
نه دولت وه د خلقو او نه دا زیب و زینت
همت اوکړو مالیار نو مرادونه حاصل شي
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دیقین شي



همت د جهان زیب چه کړه د عدل ډیوه بله
ښتنه د خپل قام نه یې د هر تکلیف کوله
فائده د رعیت به یې هر وخت لټوله
مدام میوه د رحم یې په هر مقام کوله
اوس وائي ټول قومونه چه په شاه دي آفرین شي
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دیقین شي

اوس وائي ټول په شوق چه د شاه یو وفادار
قائم دې تر تل دا سلطنت په ورد دې کار
دا ښکلے وطن باغ شه په دے باغ تازه بهار
رښتیا وائي شیر خادم لفظونه د اشعار
راځئ د دې د هر ملک نه څوک سیل ننداره یقین شي
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دیقین شي

شیر ، چند ، خوږه ، سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بناغلے خور مهرالنساء صاحبه بانو
## کوکارئ، سوات

طرح ۳

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د دره ده
منع د عطاء نه د کهتر، نه له مهتره ده
بل چینه جاری د عنایت د له دفتره ده
هغه ترے فائز چه اراده ئے له اخلاصه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

بلبل کوی نغمے په باغ کښی توجی په نخرو
قدم اخلی د نازه په رو رو را ځی خارو



شر شور کوی طوطیان د دے وطن په سر دره
دا ستا بنکلے دوران بنه زمانه خه به هر سړه
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

قومه خوشحالیګی چه ئن باره د سمبر دے
والی صاحب په دے ورځ اینبودے تاج په سر دے
ده ورځ د خوشحالئ ځکه په هر سړی اختر دے
خوشحاله ئن عالم دے خوشحالی پرے بے قیاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

ستا بنکلے دوران دے پرے مزے د غریبانو دی
خاندی خوشحالیږی خوشحالئ په مظلومانو دی
سخت ورځے ئن د ریاست په ظالمانو دی
رب د اجر درکړی داد عام خاص الخاصه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

تا د علم جال په وطن خور کړه فیض رسانه
هر یو کار خیر کړے ته خپل قوم له مهربانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د فیضِ عام نه رعیت شه تول شادانه
څکه دِ رتبه په بادشاهانو کښې پیا سره ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

حق چه ستا د شکر نه منی هغه انسان نه دے
نه محسن هغه دے چه قایل دِ د احسان نه دے
رب چرے ملګرے د ناشکره مسلمان نه دے

ستا ده دعاګو څکه بانو چه حق شناسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

مهر النساء بانو ، کوکاری ، سوات



## بناغلے پیر محمد خان صاحب ډمګی، سوات

طرح ۱

زه یو وازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

خیر یو وازے ما د یاره نه دے خو د عام دے
هر سړے رضا دے څکه خلاص شو د جنجاله
زه یو وازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

نشته دے خفه در نه هیڅوک د سوات په ملک کښې
نور ملکونه وائی چه شوے لاندِ ستا د جاله
رعیت به دے خود فخر کړی چه ستا غونډے شاه وی
هر سړے دِ لاندِ دے پوره بوره د خیاله
داستا د توفیق سوال چه کوی په ځامنی د قتول
بل تا غوندِ څوک نشته چه دشمن کړی بے مجاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سواکه حیوانات که جمادات دي ټول نارې وهي
عادل بې ته عادل اې والي شاه باکماله
پوره به وصف نه کړي که شروع پیر محمد خان شي
که تیر به دې وینا کاندي اتلس نولس کاله

---

## طرح ۲

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

PUKHTO.NET

طوطیان په ګلستان کښې د خوشۍ کړي خندیده
د یو شاخ نه کړي بل شاخ ته د نازه جهیده
تیاره د خیره لاړه زاغان ځکه رمیده
د ده د مخه تخت د دښمنانو تیره وي دمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

تیاره د ملکه لاړه په وطن آبادانې ده
وېستلې دې دوستانو د آرام زندګانې ده



چه بغض لوی زړه کښې دېره نه زیاته نادانې ده
قربان چه لتاسه کړي ورسره نې د عقل قمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

وطن دې د ختن ځئي دو چند جوړ که نقاد
خوشحاله به وي هغه چه کړي تیر ساعت په یاد
نه جهل شته نه مکر نه فریب شته نه فساد
دا رحم دې چه بله شوله ستا د حسن شمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

په ورځ د تاجپوشۍ خلق یو بل ته مبشر شو
د ځمکې زیر ګنجونه د زمین سر ته ظاهر شو
د چالاس کښې چه خاک وو هغه واړه جواهر شو
ته بې سنګ فارس خلق به زر کړې لري طمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

په فضل د الله دې هره چاره منتخب شه
بالا دې په شاهانو کښې اې شاه لوی منصب شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې صاحب وطن واړه په مثل د جنت دے

خوشحاله ترے هر وخت تمام واړه رعیت دے

دعا ورته کوونږ ده هر یو کار دې سنګین شي

دعا ورته کوونږ ده دا دعا دې رب قبوله کړي

خلاص دې په دین دنیا کښ پاک الله د نوله کړي

نیکه دې غوث الزمان دے په دعا دې رنګین شي

دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دې یقین شي

نیکه دې غوث الزمان دے په سید شریف مزار لري

تختي ترے دشمن شاه جهانزیب لاس کښ تلوار لري

شي د مبارک هم مبارک دې همنشین شي

شي د مبارک مبارکي مونږ له پکار ده

وي پیر محمد خان د داګي پاکه راته لار ده

دا دوړ دې قایم وي هم قایم دې آمین شي

دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دې یقین شي

---

پیر محمد خان داګي، سوات



## بناغلے محمد نوشیروان صاحب شاهدیرۍ

### ریاست سوات

---

### طرح ۱

### یوزه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

---

یوزه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

خوشحاله هر انسان دے ځان خبر که د احواله

خوشحاله هر انسان د خوشحالي کړي کور په کور

بورا په سرو غنچو د باغچو کوي لور په لور

بلبل د ډیره جوش ځان له جوړه که تنګ تکور

بادشاه چه عادل راغے خلاص د خلق د جنجاله

یوزه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

بادشاه د عدل راغے په ځای جوړ شه انصاف

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حق په سترګه او ګوره پکښې نشته خلاف
بېزه شرع او به سکې تل په یو کو د ر کښې صاف

قلم زه شه ناچاره ستا د وصف د کماله
یو زه یوازې نه یمه په دې باندې خوشحاله

قلم زه شه ناچاره ستا د وصف نه سلطانه
عادل یې رحمدل یې په غریبو مهربانه
د شتینې ظل الله یې اے څمو نږه حکم انه
بادشاه د هر وطن شې سوال کوم د ذوالجلاله
یو زه یوازې نه یمه په دې باندې خوشحاله

بادشاه د روئ زمین شې دعا کوم شام و سحر
تاریخ د تاجپوشۍ دې په باره د سمبر
دا ورځ د خوشحالۍ ده پو نږ باندې لوی اختر
مرزا نوشیروان څکه په جوش کړې د خیاله
یو زه یوازې نه یمه په دې باندې خوشحاله
خوشحاله هر انسان دې خان خبر که د احواله



## طرح ۲۷

## طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

---

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع
شکر دې الله چه د زاغانو لړ شو طمع

شکر د الله دې چه زاغان شو تار په تار
بېل چه شه په سوات کښې د مظلومو مددګار
فضل پو نږ وشه د خالق غنی غفار
د ظلم تیاره لاړه چه روښانه راغله شمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

تیاره د ظلم لاړه رڼا یې شوه په جهان
مولې د تل پسه لری څمو نږ دا حکم ان
د سوات زمکه یې جوړه کړه خائسته جنت نښان
د حق په غوږ کو وا وره دا حمدنا په سمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع.

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَحق په نظر اوګوره دَ سوات په سرزمین
ځائے بځائے بنګلے خائسته باغچے په بنه آئین
سوال مِ په درګاه کښې دے دَ رب العٰلمین
خاونده لایزاله دَ دشمن ئے اوباسے قمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناستی جمع

خاوند لایزاله دشمنان ئے کړے تاراج
ترڅو چه وی ژوندے پسه دَده لوړے دا تاج
مزا نوشیروان په محبت لکه دُرّاج
دَ خولے نه ئے دَ جوشه لوړه اوختله لمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناستی جمع

## طرح ۳۱

هر سړی موندلے لو یه برخه ستا دَلاسه ده

---

هر سړی موندلے لو یه برخه ستا دَلاسه ده
شک پکښې هیڅ نشته دا خبره بے وسواسه ده



شک په دے کښې نشته ځما داوره قیل و قال
ظلم ستم زور روه هر سړے وه په جنجال
چه ته دَ سوات زمکه چه ته داسے ده دل دال
لاندِ په تهذیب چه وه دَ هر چا اوس لپاسه ده
هر سړی موندلے لو یه برخه ستا دَلاسه ده

چه وه تهذیب سراسر جور وه جهالت
دَ خان ملک دَلاسه دا وطن وه په زحمت
فضل دَ ربا وشه ستا پورا غے حکومت
اوس که فکر اوشی نظاره دَ کور وپاسه ده
هر سړی موندلے لو یه برخه ستا دَلاسه ده

اوس که فکر اوشی نظارے دی لور پلور
لارے موټرے دروځا هر سړی پکښې سور
سر کونه مزین شو آبادی شوه کور پکور
زه به دَ قلم مِ تیره کړے دَ الماسه ده
هر سړی موندلے لو یه برخه ستا دَ لاسه ده

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبه د قلم تېره کړې په هنر
تاریخ ته چه ووکاته وه باره دسمبر
هر سړے خوشحاله کړي جوړ دے پرے اختر
مرزا نوشیروانه خوله دې ډکه د سپاسه ده
هر سړي مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

## طرح ۲

دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دې یقین شي

دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دې یقین شي
آواز د صداقت چه وي د هر چا پکے آمین شي
دروغ نه دي رشتیا د ماضي او کوره حالات
پوره به در معلوم شي حقیقت او واقعات
د عدل زمانه د خوشحالي ده نن په سوات
امن دے آمان دے خبردار دې سامعین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دې یقین شي



امن دے آمان دے هر سړے دے په آرام
سوات شه په مثال یوه نمونه دار السلام
غازي دې ملت چه بنه خدمت او کړو د قام
په خپله به قائل شے که دې زړه کښې باد آئین شي
په خپله به قائل شے چه خبر شے په احوال
چه ته په دنیا کښې به دې پیدا نه شي مثال
دائم دې وي قایم دې وي داستو رے د اقبال
قبوله که دعا مې په درګاه د رب متین شي
قبوله که دعام شي په در د پاک اکبر
مبارک دې تا جپوشي وي نن په باره دسمبر
مرزا نوشیروانه ستا پوره نه شه دفتر
که لاندې د نظ نه دې تاریخ د سنین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دې یقین شي

مرزا نوشیروان شاه ډیرۍ، سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بناغلے شیرافضل صاحب افضل

## سید وشریف، سوات

---

### طرح

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

---

چه بله ورته شوه دَ جهان زیب رخسار شمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

ګلونو هر طرف ته په بوستان کښې اوکړو زیب
ځای په ځای انصاف دَ چې ته نشته دے فریب
هر ځای اَمن آمان دے په اقبال دَ جهان زیب
شمشاد ئې سلامئ له راځي دَ باغِ رمه
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع
طوطیان ئې سلامئ له راځي دَ سر درونه



پاتے به حیران شي که خبر شوے دَ قِصُونه
تیاره دَ جهل وے دا دَ سوات دَ کنارونه
هر ځائ خوشحالي ده سالګره دَ نن شپه مه
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

هر ځای خوشحالي ده ګل دَ ګل سره سیالي کړي
سواتیان بے غمه کړي ټول خوشحاله خوشحالي کړي
خدائے دے کما مت چه حفاظت ئې دا ماليِ کړي
څوک ئې پرېږدي نه دَ څوک دَ لطف ذکر مه
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

څوک ئې دَ دره څوک تلے نه دے
راغلے چه په خیال کښې څوک دَ ده دے
شک ورکښې نشته د حمد لله سبه پوره دے
افضل والئ سوات دِ قربان دَ دے صنمه
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طرح ۳۱

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

---

کښې نه یم په غوږو ما اوریدلي د عام خاصه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده
کښې نه یم په غوږو د هر کس م اوریدلي دي
دروغ یمه په سترګو کارنامے م ستا کتلي دي
سوات شو لو ګلزار چه ظالمان تر رب ویستلي دي
داسې ظالمان په مخکښې ستا د خپو خزلي دي
اے د عدل ستوریه ما ویستلے دا د قیاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده
اے د عدل ستوریه ستا پښتانه حکمران
چرته به پیدا نه شي که چانه کړي ټوک جهان
سخاکښې ستا پښتانه به پیدا نه شي داسې خوان



تاجداره ناموره رب دې تل لره شادان
درجه دې رب سوا کړه دا دعا م د والناسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده
درجه به څنګ د یار دې کړه بلنده پاک سبحان
مالیار دې هم الله لره د سوات به دے بوستان
ډیر به وي کم عقله چه به تا نے وي خفګان
حق تا به حقدارو تقسیم کړے په ښه شان
هره فیصله ستا دیوے بلے لیا سره ده
د حق دې فیصلے دي پرے قائل هم ملکونه دي
حکمه اے سلطانه هر ځاۍ ستا صفتونه دي
بنګلے دې نظام دے ځاۍ په ځاۍ ښه جمند وېنه دي
لاړه تیاره کلي بل په هر ځاۍ مشالونه دي
افضل وائي عمر دې ډیر شه دا ارمان استاد اخلاصه ده

---

شیرافضل، سید و شریف، سوات

PUKHTO.NET

# بناغلي خان صاحب منګوره، سوات

---

## طرح ۱

**یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله**

---

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
هر انسان چه وینم کوک کړي ځي له خیاله
سَوره سمبالیږي، قد دَ صنوبر وینه
راشه تماشے له، ته دَ قام رهبر وینه
دا زیب دَ جهان دے، ډک دے دَ کماله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
دا رحم چه اُوشه، چمونګه په سحر کښې
ګل شه دا ګلاب، په باره دَ سمبر کښې



دے چه خدای بادشاه که، شم زار دَ هغه کاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
دے چه خدای بادشاه که په باره دَ سمبر
لرے ده یو دم که دَ عدل قام ته وَرُ
موسم دَ پسرلي شه، شو خلاص دَ پشکاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
خاوره یې شوه زر سره، کانړي یې لعلونه شو
جوهر ترے قسما قسم راشه وینه لعلونه شو
خان دے حکمران دِوی دا بلند اقباله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

---

## طرح ۲

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع
ملک ټول بهار بهار شه، شوه بل دعدل شمع
چه کوم وخت په چمن کښې دطوطیانو شه چغار
سړي ځان له جوړه که عجیب خسکلے سنګار
دعدل خوشبوئي شوه بلبلان راغله په طمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع
روانه خوشبوئي دعدل شوه دښهر یار
په باره دسپر کښې تاج پسر چه که تاجدار
غګ دا اختر اولګیږ دهر سړي په سمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع
هر سړے خوشحاله شه چه شه دریم اختر
شروع عدل انصاف شه لړ شه دعدل ورز
ډیره خوشحالي شوه دهرجا وچه شوه دمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع



دا عدل انصاف نشته نن په زمانه
لوی واړه ځمونږ ره شو په عقل پیمانه
اے خانے قصابه هر څوک پوه شو په لمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

## طرح ۳

هر سړی مونږ لے لویه برخه ستا دلاسه ده

---

هر سړی مونږ لے لویه برخه ستا دلاسه ده
ځکه ده د ترقئ ځمونږ په ټول جهان د پاسه ده
ستا په همتونو سره لوړ ځمونږ وطن شه
دسیالو سره سیال شه، ښکلے هر ګلشن شه
دا مهرباني ده دعدل دلباسه ده
هر سړی مونږ لے لویه برخه ستا دلاسه ده

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګ رنګ ترقئ و د کوے قام له ملک زیبا شه
په باره د سمبر کښې د هر ځا حق ادا شه
راغلے دا نقشه هم د سنه یو کم پنځاس ده
هر سړی مونږ لوئ په برخه ستا د لاسه ده
دا کار په اتفاق اوشه، ستا په نیک خصلت
تل به ته کامران ئے، چه وې دے دا صفت
دا معلومه شوه مونږ ته هغه وخت د قیاده
هر سړی مونږ لوئ په برخه ستا د لاسه ده
اے خانے قصابه، ستا چه خوږه ده نو ان وی
صفت به دے په خولے کښې د خپل عادل سلطان وی
وتلے دا ټکوره یو د سختئ او د افلاس ده
هر سړی مونږ لوئ په برخه ستا د لاسه ده

---

طرح ۱۲

دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که د یقین شی



دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که د یقین شی
چه دا عدل انصاف وی جهان به یو رنګین شی
ښار ښار به وطن وه جوړ به د ظلم یو سنګار روه
یو دم ئے صفا که چه عادل ئے شهریار روه
لیدے د عزتونو سنګار به په هر جبین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که د یقین شی
خپل حمونږه ملک دی، خپل ئے حکمران لرو
ټول شکر ګذار یو چه دا سے رنګ سلطان لرو
هغه ملک به لوړ شی چه دا رنګ ئے خپل مکین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که د یقین شی
د ده په برکت حمونږه لاړ شه جهالت
په باره د سمبر وطن ته راغے ډیر راحت
داوی خانے قصاب چه نوی دا به یو حسین شی

---

خانے قصاب - منګوره، سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بناغلی دِ لاور خان صاحب داکی
## ریاست سوات

طرح ۱

یوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

یوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله
خوشحال رعیتیان دَ سوات په عدل دَ حضور دی
یوزه یوازے نه یم په انصاف دَ صاحب گوم
مستی ټول رعیت کوی دَ هر قِسمه چه کور دی
پرَدی مال ته کاته دی دَ هر چا په زړه کښی شرم
غنیان دا ره سواتیان شو لمتوی دَ دولت لوری
انصاف دَ شاهِ سوات اکره دَ هاکوانو خاطر نرم

PUKHTO.NET



اکثر صاحبِ مال شو زکواتو نه ئے خیل زورِی
مخلوق تعلیم یافته رعیت هک شه دکماله
قایم دِ دا انصاف وی خوزنچه پرے مشکور دی
قائم دِ حکومت وی څو چه وی دنیا آ بساده
پلاس دِ دَ شاهئ دَ صاحب دا زنځیر محکم وِی
بهار دَ حکومت دِ خدائ ساقی دَ غم دَ باده
دا ددر دَ ګلونو دِ په دَ ګلشن هر دم وِی
دبدب دِ دَ شاه تل وِی دا دبدب دَ سوات حیاده
حیا دِ دا حکومت به پس شب و روز هر دم وِی
نِګاه دَ غریبانو ئے دَ سوات شاه رحم خیاله
دا زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله
حکومت معتمد دِ دَ شاهئ په هر دستور دی
خوشحال رعیتیان دَ سوات په عدل دَ حضور دی
حکومت دِ دوی ستا حاشے دَ حکم اے سلطانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



معنی لکه د متن، متن دی چه د معنا نه
مسکن دی ستا گلشن شی، د گلشن نه ته شې څوانه
تر څو چه دا دنیاوی ته محفوظ شې د دنیا نه
کشتن دی ستا تاجدار وی چه تاجدار شی د هر شانه
ایمان دی سلامت شه، سلامت شې د ایمانه
دشمن د رعیت دی همیش ستا وی بې مجاله
ستا تاج دې د دولت ستا رعیتان یه تا معمور دی
رعیت راضی یه کړی دی چه د تا پرې نیک خیالات دی
خیالات دی د نیکئ همیشه ستا د قوم پسر وی
ظلمونه ستا یه نیک فهم د خوارو پسر قحط دی
برکې د خپل نیکه دی همیشه د تا رهبر وی
حقوق د عدالت ستا دی یه هر وطن کښی زیات وی
داغمګ دی قاف تر قافه مدام ستا د بر نه بر وی
تر څو چه دلاور غمگین محروم نه وی د قاله
د هغې دا سوالونه تل یه در کښی د غفور دی



## طرح ۲۰

## طوطیان په گلستان کښی په خندا کیناسته جمع

---

معموره پرند د ستا یه ملک کښی یه ثمر دی
طوطیان په گلستان کښی په خندا کیناسته جمع
معموره هر آشیا د ستا یه ملک کښی یه خندا دې
محفوظ امن امان یکښی چلیږی د هر قسمه
موسم د بهار دی د ستا یه خدمت مدام پیدا دې
اقبال د شاه دی ستا بدخواهان کړه بهر د رسمه
گل هم وخت دی بلبلو ته د نازه یه بندی ادې
خوف ووت د گلونو د خزانه د جهان جسمه
شبنم څو ته غوټې لبان د گلو مستراز دې
طوطیان او بوراگان خوشنود بیا کیناسته جمع
طوطیان او بوراگان یه ستا کښی حکم معتبر دی

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسم په عدالت په سوات کښې هر زمان ګلزار دے
د خوفه نه خزان خفګان ژر ټکی کور وکړ دی
حیران څونږ وطن ته ټول کابل او قندهار دے
موسم پرے معتدل ګرمی یخنی سم برابر دی
آبې د سوات هر کلے په نیک فهم د سردار دے
چمن چمن څونه دیورب ځنې بهتر دی
مخلوق د هر وطن دلته شاد اکیناست جمع
راځی د سوات لیدو ولته د هر قسم مخلوقات
والی صاحب د سوات نام منور که قاف تر قافه
حافظ د سوات ایستلی بد خواهان دی د هر بات
منسوخ ظلم زور شران د هر قسمه اسرافه
رهبر د غریبانو دا سلطان دے عالی ذات
ګواه پرے ټول عالم دے چه هر ځای کښې د انصافه
مشتاق دی پرے عالم د سوات د شاه عدل ګستر دی
بد خواه د شاه سوات ګوشه جدا کیناست جمع



دا دور د مدام وی په قسمت د حکمران
شاهی چه د اول آخیره وی د ټول اولاد
ګلشن ګلشن د سوات چه راهی وی پرے طوطیان
طوطیان او میلانه یکښې اوسیږی خاد و بناد
واصف چه دلاور غمګین پرے بخیل لسان
دا د دل د د سوات اوی په والی صاحب آباد
ګلونه دولس میاشتې په باغو کښې معطر دی
زاغان تری په ارمان کښې په سود اکیناست جمع

---

## طرح ۳

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

---

خوږه ساټلانو اراده چه د کوم کار کړے
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

PUKHTO NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوږ سائِلانو اِراده چه دَ دولت وکړه
نول هغه ماړهٔ شو پکښې یو پاتې محروم نه شه
وارهٔ فقیرانو افسانه دِ دَ شهرت وُکړه
پاتې یو سائِل په سوات خوارچاته په نوم نه شه
دادَ تقسیم برخې په جُمعه کښې حرکت وُکړه
هر سائِل سخی شه نام هرګز پاتې دَشوم نه شه
ځکه په یورپ اشیا دَ سوات نالے اظهار کړے
چترالے پس دَ بادشاهی لمن نیاسر ده
دادَ شام ثانی په سوات کښې بل چه دویم شام جوړ شه
ځکه دیر عالم پکښې دَ هر ځائ تماشے کوی
دادَ سید و غوث په ځې سرائے دَ اسلام جوړ شه
سوات ځکه دَ ښه په هر وطن کښې پلوشے کوی
هر رنګ طالبان پکښې دَ هر علم انجام جوړ شه
هر رنګ ملنګان پکښې په هر رنګے نشے کوی



هر رنګے غنچې دَر پکښې هر رنګے بهار کړے
هر رنګے باغچه پکښې دَ هر ثمر بے قیاسه ده
هر رنګے هنر پکښې دَ چین او دَ ختن شته دے
هر رنګ نقاشیان پکښې قابِل په امتحان شته دے
هر رنګے فیشن پکښې تیار دَ هر وطن شته دے
هر رنګ فیشن ساز یعنے ټیلر په هر مکان شته دے
دادَ سوات دَشاه دَ هر بنده شاه ګفتن شته دے
داسے دَ هر قِسمه فن په سوات کښې قابِلان شته دے
دا ذ سواری دَ سوات صاحب دار و مدار کړے
ځکه د بل به دَ سوات تیره خود دَ الماسره
خود به ترقی د غه دَ سوات نامِ عجیب کوی
مل چه ئے په نیکه خیل تاجور دَ هره باب دے
تل دَ سوات سلطان رائے دوستی دَ خوار غریب کوی
ده دَ عدالت خنجر ویستلے دَ نفاذ به دے

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم يې پرورش کړې هم يې غور د طبيب کوي
هم دے نيکوکار او نيک کردار د هر حساب دے
داسے نيکه برخه چه د قوم سره تاجدار کړې
برخه جهانګيرې يې رسيدے د والناس ده
نامه يې ج او ه الف ن ز ي ب بهتره ده
فکر ورته اوکړه چه عقل ورته خام نه کړې
جيم ه الف يو ځای او د نون بيله خانه غوره ده
ز يوازے کور دے ی ب يو ځای بد د فام نه کړے
دا جهان خائسته برخه يې نام کښې مقرره ده
نام که د حضور کورې حرف نه بے دوام نه کړے
دا د صفت باغ کښې نوکرې چه کوم غمخوار کړے
خو بنه باغباني د دلاور ته چپور اسه ده
هر سړی موندلے لويه برخه ستا د لاسه ده

---



## طرح ۲

## دروغ نه دی رښتيا دی په رښتيا که د يقين شی

---

تعليم د عدالت عاقله ته اوکړه په سوات کښې
دروغ نه دی رښتيا دی په رښتيا که د يقين شي
تعليم که د انصاف کوے اول پرے امتحان کړه
داخل چه شوې اول په سوات کښې نوم يې لنډاکے دے
محصول د سوات حد د بنير آګاه ته خپل ځان کړه
تپوس د ميلمنو د محصول دوی ته کار سپکے دے
په ورځ يخه حکم پرے د عدل شاهجهان کړه
اخلاق د بد فعلي په خوله کښې خوند ترخ شمکے دے
اخته که ځا ځد کښې مسافر شه په پنجات کښې
برباد يو ژوند حياوی په دنيا که د يقين شي
دروغ نه دی رښتيا دی په رښتيا که د يقين شي

PUKHTO.NET

درون چه میلمانه شي په مزه د سوات بهار ته
مالیان د حفاظت د پاره وي ورته موجود
پولیس حفاظتي دي تقسیم شوي هر دیار ته
چاقي د ستړي مشي میلمنو له ور کړي سود
نوکر کوي منجړه د خدمتونو خپل تاجدار ته
صاحب د نوکرانو نه جوړې د حیا بود

خوشحاله میلمانه شي د هر قسمه په عمقات کښې
کاروونه یې بې ریا دي په ریا که دي یقین شي

روان چه میلمانه شي په مهم کښې د سلام
مطلب یې په زړه داوي چه یو او کړې ملاقات
منشیان کړي د صاحب ورته د هر کلي کلام
اے خوانه نوم دې او وایه چه تېر نه شي اوقات
ولاړ وي په قول منشیان دے میلمنو ته لاس پنام
ترڅو چه میلمه نه کړي داخل نوم هغه ته ذبات



منشیان قول شفان د حکمران دي په خپل ذات کښې
په جي قربان تکیا دي په تکیا که دي یقین شي

نوم لیک چه هر زامکان کړي زر عادل سلطان له یې ور کړي
صاحب د باچې کار چه نوکر ته زر او کړي آواز
فلانے میلمه تشریف دې زر د ننه مقرر کړي
میلمه په ملاقات لکه د ګل کړي تن خیر از
حضور د هر کلے قول د خولے ورته هر کړي
مرشد غونډې راز دار شي لکه پیر چه کړي خوګ راز

احوال ورته ښکاره کړه دلاور په دې ابیات کښې
ښه واوره داوینا په دے وینا که دي یقین شي
دروغ نه دي رشتیا دي رشتیا که دي یقین شي

---

## دلاور غمګین ډاګي سوات

# دَ ناظرینو پہ خدمت کښې

خاص عوامو ته او بیا خاصکر تعلیم یافته
او ادبی طبقې ته دا ښه معلومه ده چه څو ښ
په ریاست کښې تر دے حینه پورے دا سے
یو ادبی شاهکار او د ترقئ او د عروج
په حقله دا سے یو مشاعره نه وه شوے
دا اوله مرحله ده چه هر کله حضور
غازئ ملت والا همت فرمانروای
سوات دام اقباله د ترقئ په بام باند
کما ینبغی د سوات ریاست یو زلیدونکے
ښه او کوز وله، نو د ادبا، شاعرانو



په زړه کښې د خپل محبوب حکمران د محبت
جذبه را غله، او د دے خپل نیک محسن
د تحسین نه چپ نه شو پاتے کیدے نو لهذا
څو ښ د ریاست ښاغلی محترم جناب
سیف الملوک صاحب صدیقی
(تحصیلدار دفتر حضور دام اقباله)
د ریاست سوات او غیره ادبا و صاحبانو ته
د مشاعرے پیغام ورکړه نو ښاغلو
شاعرانو خپل خپل کلام د پاره د شایع کولو
صدیقی صاحب ته را اولیګه، اګرچه د بعضو شاعرانو
شعرونه د قافیو او د ردیف په لحاظ او د بحر په
توازن سره سمے نه خوری لیکن بیا هم صدیقی صاحب د
هغوئ د جذباتو قدر کوی او پخپله د ناظرینو کښې پیش کوی

تاسو ورور
فضل الرحمن فیضان عفی عنه محرر جناب مشیر ملک صاحب سوات

# دَ عقیدت ګلونه

راشه لږ اُوګوره دا دَ عقیدت ګلونه
لکه بورا بویږ وه دا دَ صداقت ګلونه
نننئ ورځ دَ تاجپوشئ چه دَ والی صاحب
شو په پیشکش کښې ورته دا دَ حقیقت ګلونه
ټول ادیبانو شاعرانو په اخلاص او خلوص
حضور ته پیش کړه په دے ورځ دَ محبت ګلونه
هر یو شاعر اظهار دَ ډیرے خوشحالئ کړے دے
غازی ملت ته ئے دالئ کړه دَ عبرت ګلونه
وائی حبیب چه مونږ به نه یو دا یادګار به وی تل
تل به باقی وی دا ځمونږه دَ خدمت ګلونه

بناغلے جناب حبیب الرحمن صاحب حبیب کالوج

بکتابت فضل الرحمن فیضان سواتی عفی عنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مظلوم ورته خندېږي او ظالم کوي فرياد
د زړهٔ په وينو تـکي دا زمـا قـلم ليکي

سيف الملوك صديقي




زهٔ انتظار کوُمه ستا د سترګو

سيف الملوك صديقي



زهٔ انتظار کوُمه ستا د سترګو
ولې پناه شوې ئهٔ زما د سترګو

چې په ګلونو د دنيا کرم نظر
مثال مې نشته د اشنا د سترګو
که په سلګو يمه يواځې ئهٔ يم
اوښکې بهيږي د هر چا د سترګو
څومره ښائست چې ستا په سترګو کښې وو
نشته نرګس او د لالا د سترګو
هر چا ته ګورمه دنيا لټوم
نشته هغه چرته خندا د سترګو

صديقیؔ خوښ دے په خلوت د دنيا
چرته به پټ شی د دنيا د سترګو

Jan
جان کتاب کور
JAN0345K951961KS

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**